آصف بهاند ۲۰۱۷/۱۱/۰۶

# شپه ورځ میلمه اوس د ژړا یمه زه



تورو وهلی له هر خوا یمه زه
هم ملامت تر خپل مولا یمه زه

اوښکو او وینو نه خلاصی نه لرم
تر ستوني ډوب په کومه ځا یمه زه

چغې وهم په ناماللومي پتې
هم شپه، هم ورځ په واویلا یمه زه

یوازې ته یې چې مې غږ در رسي
له نورو خلکو اوس جلا یمه زه

کریغې مې دومره لوړې شوې دي اوس
ځان راته ښکاري چې بلا یمه زه

د پټولو څه راپاتې نه دي
وټول عالم ته هویدا یمه زه

نورو ته، خدای پوهیږي څنګه ښکارم
د مینې کار کې بېنوا یمه زه

ځواني او عمر رانه منډې وهي
یاران هم نه شته تریې جلا یمه زه

خندا خوښی هم کډه شوي رانه
شپه ورځ میلمه اوس د ژړا یمه زه

۲۰۱۷/۱۰/۳۰
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ